مصور خپرندوی بنسټ



۱۳۸۶ل

د ننبتر د دودیزې مشاعرې په ویاړ

# ستوري

## ماشومانو لپاره شعرونه

علم گل سحر

Ketabton.com

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ستوري

## د ماشومانو لپاره شعرونه

علم ګل سحر

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځاله

دا دمرغۍ ځاله ده
ښه ورته خوشحاله ده

بچیان ورته چغیږي
مور یې هوسیږي

مور ورته خواړه راوړي
پاک راوړي خواږه راوړي

ځاله د مرغیو زه
ساتم په خواریو زه

نه ځان په کیسو پریږدم
نه ورته پیشو پریږدم

ارکونې به رالوی شي
اخر به په ژوند پوی شي

بیا به الوتنه کړی
ځان نه به ساتنه کړي

Downloaded from: www.ketabton.com



WWW.KITABTOON.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خور


وایه څه خبره ده ؟
خور مې مروره ده
ماته یی نانځکه ده
پښه یې ترینه ورکه ده

زه به یې پخلا کړم
دا به دلاسا کړم

ګډې لوبې تل کوو
مینه یو پر بل کوو

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سویه

راغله سپینه سویه
دا تر نورو لویه

ګرځي په فصلو کې
کار کوي پټو کې

ښکلې یې خبرې
خوري ډېرې ګازرې

Downloaded from: www.ketabton.com

WWW.KITABTOON.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژیړې غوا



ژیړې غوا شیدې غواړم
ښې ډېرې مستې غواړم

همزولي راته ګران دي
راټول په دسترخوان دي

دوی ته به مستې ورکړم
هم خوږې شیدې ورکړم

تاته به وابښه راوړم
ښې رنې اوبه راړم

Downloaded from: www.ketabton.com



WWW.KITABTOON.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نانځکه



زما وړې نانځکې
ای ښایستې نانځکې

یې له مالوچو جوړه
پستې،مستې نانځکې

****

سر په مړوند کیږده
ښه یې په خوند کیږده

****

زما تر ځنګ ویده شه
د ورور په رنګ ویده شه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښوونځی

ښکلی ښوونځی لرو
لوی په کې ټولګې لرو

علم زده کوو په کې
لوبې هم کوو په کې

باغ کې یې میوې لرو
سرې ژیړې مڼې لرو

نه شکوو ګلان مونږه
ساتو یې په ښه شان مونږه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ستوري

شپه ده توره شپه
يمه بام باندی ويده

ستوري بنكلي ستوري
له پاسه راته گوري

شيندي رڼا ګانې
وريځې دي روانې

Downloaded from: www.ketabton.com

WWW.KITABTOON.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کتاب

زه کتاب يم د لوستلو
نه د پام غلطولو

ځيني ځيني وخت ضايع کړي
زما په پاڼو اړولو

زه يې وايستم له ګټې
ماشومانو په مروړلو

چې مې څوک په قدر پوه شي
کړي مې پورته له ښځلو

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه هم لارې ورته بنییم
د نیکمرغه ژوند کولو

زه د پوهی بل مشال یم
نه یم نه یم د سوځلو

Downloaded from: www.ketabton.com



WWW.KITABTOON.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملا چرګک

بیا ملا چرګک راغی
ډیر تیز او چابک راغی

لاړو د چنار خواته
کیناست د سپیدار خواته

بیا د چا سیالي کوي
غاړي د طوطی کوي



Downloaded from: www.ketabton.com


WWW.KITABTOON.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کله چې مور وخاندې

کله چې مور خپه وي
خونه زما تياره وي

کله چې مور وژاړي
ټوله دُنيا تياره وي

چې مور خوشحاله وي نو
غوټۍ ګلونه واشي

کله چې مور وخاندې
ټوله دُنيا رڼا شي

Downloaded from: www.ketabton.com


WWW.KITABTOON.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غرمه

ټکنده غرمه ده
ابۍ په خوب ويده ده
مورڼ جوړه سايه ده

ښکلي اَسمان،ځمکه ده
مورڼ جوړه نانځکه ده

همزولي مې ګډيږي
اختر ته هوسيږي

شرنګا يې د پاوليو ده
شور د مرغکيو ده




Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښوونکی

دا زموږ ښوونکی دی
تل زموږ روز ونکی دی

په ټولو باندې ګران دی
په موږه مهربان دی

موږ ته الفبې ښيئ
ښه يې په مزې ښيئ

موږ يې احترام کوو
عمل يې په کلام کوو

Downloaded from: www.ketabton.com


WWW.KITABTOON.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

# واوره

سپينه واوره اوري
انا مې ورته ګوري

په ونه کې کارګه ده
سندره يې په خوله ده

کوي د يخنۍ لاپې
سپين سپى ورته غاپي



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مور ورځ

نن بیا  ورځ د مورده
رڼا یې په هر یو لور ده

مور راباندې ګرانه ده
په ماتل مهربانه ده

مور ته به ګلان ور وړم
ډالۍ به په ښه شان ور وړم

ما به په مخ ښکُل کړي
زړه به مې تسل کړي

Downloaded from: www.ketabton.com

WWW.KITABTOON.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلار

پلار مې مسافر دی
تللی په سفر دی

زه ورته دُعا کوم
هر سهار بیګا کوم

په خیر دې راستون شي
خوښ به مې ژوندون شي

شنه بنګړي ډالۍ راوړي
ژیړه غاړه کۍ راوړي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نا مینځلې منې

تکې شنې منې وې
کله لا پخې وې

له ونې رالویدلې
په خاورو وې لړلې

منې وې نامینځلې
ورور مې وخوړلې

اوس مې ورور رنځور دی
ژوند یې په ضرور دی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# باز او زرکه

ژیړه زرکه ښکلې وه
له کوره راوتلې وه

ناسته په ډبره وه
ډیره معتبره وه

تل ډیره خوشحاله وه
د غره خواکې یې ځاله وه

دې ویلې سندرې
له نورو ښخه لیرې

باز راغی له غرونو
پوري له ځنګلونو

Downloaded from: www.ketabton.com



WWW.KITABTOON.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

د باز سترګې سرې سرې
خلاصې يې پنجې وې
زرکه وارخطا شوه
له ځان سره سلا شوه

ژر ولاړه تر کوره
د باز له ظلمه و زوره

باز وويل زرکې
زما د زړه بڅرکې

ښکلې وې ستا غاړې
چيرې رانه ولاړې

زه په تا مين يم
په ارمان ستا د ديدن يم

Downloaded from: www.ketabton.com

WWW.KITABTOON.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

را ووځه له خپل کوره
زما حال ته وګوره

بې تا مې ژوندون نه شي
هیڅ ځای مې سکون نه شي

یو ځای به ژوندون وکړو
مور. به پیوستون وکړو
تاته به هر څه راوړم
خوراک به ستا په زړه راوړم

تل تاسره مینه کړم
دا خبره سپینه کړم

زرکه خرامانه
له کوره را روانه

راغله د باز خواته
خپل کور شو ځینې پاته

Downloaded from: www.ketabton.com


WWW.KITABTOON.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو شيبې سندرې وې
د راز و نياز خبرې وې

زړکې وويل بازه!
زما د زړګي رازه

ولاړ شه څه خواږه راوړه
ژر زما په زړه راوړه

باز ويل ستا غوښې
د هر چا ډيرې خوښې
تر ټولو دا خوږې دي
زما لپاره ښې دي

زړکه شوه حيرانه
باز ته شوه ګويانه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته خو زما يار يې
اوس مرګ ته مې تيار يې

باز وويل ښکلې
بې عقلې ساده ګلې

ياري د زورورو
په خوله وي،په خبرو

اوس ورېی یم تا خورمه
نور صبر نه کومه

زرکې په سلګو کې
د ژوند وروستو شيبوکې

دا وويل ژړاکې
دباز د پښو خوا کې

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې بې ځایه اشنایي کړي
اور به بل په خپل تندي کړي




Downloaded from: www.ketabton.com



WWW.KITABTOON.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لوبه

سترګې مې توريږي
ژيړې غوا مې لنګيږي

ماته خوسکی راوړي
ښکلی ګلالی راوړي

رابولم به همزولي
دايره به وهي ټولي

دوی ته به اوربږه ورکړم
ښه تازه خواږه ورکړم

---

دا بيت د ماشومانو له يوې فو لکلوريکې سندرې څخه اخيستل شوی دی. ددې سندرې په وخت ماشومان اټن کوي يو ماشوم په يوه پښه څرخيږي او له دې ځای په ځای نڅا سره يې سترګې توريږي او نور سندره ورته وايي.

Downloaded from: www.ketabton.com



WWW.KITABTOON.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د انسان کمال

نن نه وړاندې پخوانيو زمانو کې
غويو هم ارام ژوندون درلود ځنګلو کې

نه له يوې نه خبرو، نه له سپارې
ګرځيدل په سمه غر، په لار بې لارې

نه يې چاته د خوراک ستړکې نيولې
شنه واښه د ونو پاڼې يې خوړلې

يوه ورځ له ځنګله ووت يو غويي
پخپل زور باندې مغرور و، ليونی

Downloaded from: www.ketabton.com



WWW.KITABTOON.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځنګله خواته نږدې و دان و، کلی
یو زوړ خر و له دې کلي را وتلی

دې غوايي چې له ليرې وليد خر
چې په لاره تللی نه شی دی ډنګر

غوايي وويل ورته ولي خوار و زار يې
په وښو پسي ګرځيږې ناکرار يې

خره ځواب ورکړ غوايي ته هغه آن
ويل يې تا ليدلی نه دی لا انسان

انسان وړي هر وخت پر مادرانه بارونه
چې بار نه وی نو کري پر ما فصلونه

دا غوايی د خره په دې خبر حيران شو
ژر په لټه د ليدلو د انسان شو

Downloaded from: www.ketabton.com



WWW.KITABTOON.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل یې ژر شه راته وښیه انسان
چې زه ووینم د ده طاقت و توان

هلته لري په فصلو کې لږ څه بر
په کار بوخت و، په پټیو کې بزګر

خره مخ واړاوو غوایي ته ویل دا دی
دا انسان چې زورور دی بر په ما دی

غوایي وخندل د خره دې نادانې ته
ویل حیران شومه دا ستادې ناتوانې ته

زه یې وینم دی انسان تر تا کمزوری
څنګه تا څخه یې ورک دی د ژوند لوری

شپه او ورځ په تا راوړي لوی لوی باورنه
او کوي په تا انسان سخت سخت کارونه

دا خو دومره قوي نه دی چې ته وایې

Downloaded from: www.ketabton.com

WWW.KITABTOON.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای دې خوار کړه هسې خوشی وارخطایې

خره ویل ورته چې واوره ته له مانه
که منې مې لیرې ګرځه له انسانه

په دې ځمکه تر هر چا دی ډیر غښتلی
پخپل علم په کمال باندې ښاغلی

غوییي ورغی بزګر ته په غرور
و، پخپل قدرت له حده زیات مغرور

ویل یې ولې په دې خره کوې ظلمونه
له سهاره تر ماښام پرې وړې بارونه

بزګر وویل دا قانون د دې دنیا دی
څوک رعیت دی څوک واکمن دی څوک پا چا
دی

Downloaded from: www.ketabton.com


 WWW.KITABTOON.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په خره باندې کارونه زه کومه
ده ته هم هره ورځ خپل حق ورکومه

ښه یې ساتم ورکوم ورته واښه ډیر
هره ورځ مې پام او فکر وي په خره ډیر

ورکوم ورته رشقې او هم وربشې
ستا خبرې معلومېږی هسې خوشې

غوایې وویل دا خبرې نه منمه
زه دا خر دا ستا له ظلمه خلاصومه

تا یوازې خر کمزوری دی لیدلی
ته له ماسره زور نه شې ازمایلی

غوایې غوښتل بزګر ووهې په ښکر
خو بزګر یې ښکر تکیه کړل په هنر

Downloaded from: www.ketabton.com



WWW.KITABTOON.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شيبه کې يې پښې ور وتړلې
د غوايي پښې له کاره ولويدلې

غويی پريووت په ميدان کې لکه مړی
بزګر تاو کړ د هغه له غاړې پړی

له هغې ورځې تابع دی د انسان شو
د انسان کمال او علم ته حيران شو



Downloaded from: www.ketabton.com



WWW.KITABTOON.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کارغه



کارغه ناست په دیوال دی
راوړی یې احوال دی

دی بولي سندرې
کوي راته خبرې

پلار مې راروان دی
زړه مې پرې روښان دی

ماته ناوکۍ راوړي
ښکلې غوږ والۍ راوړي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کمپوټر

دا مې کمپیوټر دی
له هر ځای نه خبر دی

هر راز معلومات لري
رسمونه هم ډیر زیات لري

کاږمه رسمونه کې
ساتمه نوټونه کې

لوبې هم کوم پکې
درسونه زده کوم پکې

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جګړه

دا جګړه کړي خدایه ورکه
شي مې کرکه له ټوپکه

مور د سولې ژوندون غواړو
د الله په پراخه ځمکه

د انسان په نامه یاد یو
دښمني نه لرو کرکه

ټوپک ایسته کړه اوږې نه
د خپل ورور دښمني مه که

چې د ډزو اواز ورک شي
بیا به خوب وکړي نانځکه

Downloaded from: www.ketabton.com

WWW.KITABTOON.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳۷۱/۶/۱۵
دپوهنې وزارت

Downloaded from: www.ketabton.com



WWW.KITABTOON.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوستانو سلام!
ددې کتاب د شعرونو لپاره
انځورنه ما کښلي.
زه روښان زرمتی د پکتیا ولایت د زرملې
ولسوالۍ اوسېدونکی یم.
رښتیا کله کله کیسې هم لیکم.
که تاسو هم کیسې یا شعرونه ولیکل
انځورونه به یې زه ورته وکاږم. وعده ده.

روښان زرمتی

Downloaded from: www.ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**